انجنیر سلطان جان کلیوال ۲۰۱۷/۰۲/۱۹

# په پردیو تکیه کول، پر خپلو بی باوری زیږوی

## لمړی برخه

تاریخي پیښي په پرله پسي توګه، که په هماغه بڼه نه وی نو تقریباً په سره ورته توګه تکراریږی او همدا د پیښو تکرار د یوی ټولني او یا د یوه هیواد تاریخ جوړوی. دا تاریخ کله داسی وی چی د هماغی ټولني یا هیواد ولسونه او وګړی ورباندی ویاړی او دهری شیبی یاد یی د هغوی ملی غرور زیاتوی. کله بیا داسی وی چی په یاد روړل او یا د تاریخ په پاڼو کی د ځینو پیښو لوستل د یوه ولس د پاره د شرم او خجالت نه ډک وی او د پیښو په یاد راوړلو سره په هغو څیرو لعنت وای چی د ملت ملی غرور ته یی زیان رسولی وی او د نورو ټولنو په منځ کی یی د دی ټولني د بی عزتی، بی غیرتی او سر ټیټی لاملونه را منځ ته کړی وی.

افغان ولس هم لکه د نورو ولسونو په څیرپه خپل اوږد تاریخ کی داسی ډیری هم د ویاړونو او هم د شرم ورځی لری، چی د ټولو رایادول او زکر کول یی زما په څیر یوه غیر مسلکی کس ته نه اسان کار دی او نه ضرورت شته چی را ویی څیری، دا د تاریخ لیکونکو او هغو پیاوړو محققینو وظیفه ده چی دا دویاړ نه ډکی پیښي او همدارنګه یو شمیر د شرم او خجالت راوړونکی واقعات د وقوع د ټولو ریښتینو عوامل او سببونو په ښولو او څیرلو سره د خپلو وطنوالو مخی ته کیدی تر څو ویاړمنی پیښي، د شرم جوړونکو پیښو سره ګډی نه شی. که څه هم دا آسان کار نه دی چی دا دواړه پیښي په داسی توګه د یو بل نه بیلی شی چی د ټول افغان ملت پاره ( خصوصاُ په نننیو شرایطو کی) په یو مخیزه توګه د منلو وړ وی، ځکه دا ملت له بیلو قومونو نه جوړ شوی او نن ورځ له بده مرغه دا قومونه د داسی نا اهلو، ځان غوښتونکی، ناکارو او بیکارو کسانو له خوا یرغمل او د خپلو شخصی ګټو د پاره استخدام شویدی چی نه د ملی ارزښتونو د پیژندنی وخت ورکوی اونه ور ته د خپل تسلط نه د وتلو امکان. خو د دی ټولو ستونزو سره سره بیا هم وینو چی د اافغانستان ولس یو هسی ولس دی چی د نفوسو لویه برخه یی ځوان نسل جوړوی، او دا هم محسوسه ده چی دا ځوان نسل د بل هرچا نه هم حقیقت غو ښتونکی دی او هم حقیقت منونکی او له نیکه مرغه داسی پوه او حقیقت ویونکی مشران هم کم نه دی چی د هیواد د ځوان نسل په پوهولو او په حقایقو باندی د خبرولو په لاره کی د خپل ټول توان نه کار اخلی او دا ستره ملی او تاریخی وجیبه په ډیره ښه توګه سر ته رسوي.

زه دلته یواځی غواړم یو څوهسی ورځی او یا یو څو هسی پیښو ته د قدرمنو لوستونکی پام ور واړوم چی یایی افغان ملت ته یو هسی دروند نوم ورکړیدی چی توله نړی بی له دی چی تاریخ یی ولولی تش د نامه (افغان) په یادولو سره د هغه هویت او اصلیت پیژنی او درناوی ورته کوی. او یایی د دی تر څنګ هغو پیښو ته چی په ځینو خاصو حالاتو کی یی د «افغان» بچو په مخونو ، د شرم او خجالت خولي را ماتي کړیدی، هم په لنډه توګه یاد ونه ولرم.



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

د یوی خبری یادول ضروری بولم او هغه دا چی دا لیکنه داسی کوم څیړنیز اړخ نه لری چی د ویاړمنو پیښنو او یا د شرمونکو پیښنو د را منځ ته کیدو لاملونه وښای. د دی لیکنی مطلب دادی چی په خپلو خلکو او ولسونو اتکا هر زمامدار او حکمران ته د دی موقع په لاس ورکوی چی راتلونکی نسلونه پری و ویاړی او د تل د پاره ورته احترام او درنا وی ولری. بر خلاف هغه امیران، پاچاهان او حکمرانان چی د خپل ولس، خپلو خلکو او خپلو وطنوالو پرځای د نورو پرمټ اتکا کوی او ځان د نورو ارادو ته تسلیموی، نه یواځی داچی په تاریخ کی د شرم نه ډک نوم ورته پاتی کیږی بلکی ټول دارنګه کسان د داسی شوم سر نوشت سره مخامخ شویدی چی حتی لیوني سپیان هم ور سره نه دی مخامخ شوی.

که له ډیری وړاندی زمانی څخه تیرشو او نژدی درسوه کاله شاته ولاړ شو او لومړی د هغو ورځو او هغو پیښنو یادونه وکړو چی د ټولی زمانی د پاره به د افغانانو د سر لوړی او ویاړ سبب وی، نو لومړی به د ګاونډی هیواد ایران له خاوری د صفوي دولت د تیری نه خبره راپیل کړو. وینو چی د شاه حسین صفوي لښکرو د ګورګین په مشري د افغانستان په خاوره ناروا او ناجایز تیری وکړ او داسی یی و پتیله چی د افغان جغرافیه د خپلی جغرافیی یوه برخه و ګرځوی. خو لکه څنګه چی د زمری خونه په زمری ودانه ده، د ایران د صفوی دولت چی د هاغه وخت یو لوی قوت و د ماتیدو کیسه هم د کندهار په سیمه کی د حاجی میرویس خان هوتکی (میرویس نیکه) په مشری د یوی افغانی لوی جرګی د فیصلی په نتیجه کی چی په (۱۷۰۷) میلادی کی  د کندهار د کوکران په سیمه کی جوړه شوه ، په افغانی عزم د وطن د آزادی ناره جګه شوه. د صفوی دولت نظامی حکمران ګورګین د میرویس خان په لاس و وژل شو او د ملی مبارزینو پرله پسی ګوزارونو د هغوی لښکری آن تر مشهده  پسی واخستی او تر شلونو کلونو پوری په ایران د افغان هوتکیانو حکمرانی ته لاره پرانستله.خو له بده مرغه کله چی هوتکی زمامداران په خپلو خلکو په اعتماد کولو کی پاتی راغلل د دوی تسلط هم پای ته ورسیده او بیا دی ته زمینه برابره شوه چی ملک د پردیو منګولو ته ور ولویږی.

مخکی مو و ویل چی تاریخ په یوه بله بڼه بیا تکراریږی، د باز په ځاله کی بیا بل باز وزر وهی او د لوی احمد شاه درانی په وجود کی بیا د افغان ولس د پت او عزت شمله هسکیږی. په (۱۷۴۷ م) کال کی، یو ځل بیا د ټولو افغان مشرانو په ګډون د کند هار شیر سُرخ  په سیمه کی لویه جرګه جوړیږی او د ډیرو خبرو نه وروسته د پیر صابر شاه کابلی له خوا د احمد خان په سر د غنمو وږی د شاهی تاج په توګه ایښودل کیږی او ټول افغان مشران د دی پریکړی سره موافقه کوی او د افغان دولت د تاریخ نوی باب پرانستل کیږی.

احمد خان په خپلو ولسونو باور کوی، پرهغوی او د هغوی په قدرت تکیه کوی او ټول وطني کارونه د ولس د مشرانو سره په مشوره کی سر ته رسوی، له همدی کبله د ( **بابا** ) لقب ګټي او بلاخره د داسی یو قوی دولت دبنسټ ډبره ږدی چی حدودات یی  د شمال، جنوب او غرب په لوری وسعت پیداکوی چی نن یی هم مونږ د لوی افغانستان په نوم یادوو او ویاړ پری کوو. د افغان ولس دغه د ویاړ او میرانی دوره تر د ( ۱۸۳۸م) کال پوری دوام کوی ، خو د همدی کال د جون د میاشتی په (۲۶) نیټه، بیا داسی یوه د شرم او خجالت نه ډکه معامله د اوږدی ږیری د خاوند د احمد شاه بابا د لمسی د اعلیحضرت تیمورشاه د زوی شاه شجاع له خوا قدرت ته د رسیدو د پاره **په خپل ولس باندی د اتکا په ځای** د انګریز د غلامی  زنځیر ته غاړه ټیټه کړه او د لاهور په ښار کی یی په (۱۸) مادو کی د د رنجیت سنګهه او انګریز مکناټن سره داسی یو د شرم تړون لاس لیک کړ، چی په نتیجه کیی د  آزاد افغانستان د آزادی جنده

را ټيټه کړه او وروستی نتيجه يی د شاشجاع د پښيمانی سره سره دا را ووته چی د غازيانو په لاس د کابل په سياه سنګ سيمه کی په برچو سوری سوری شو او نوم يی د تل د پاره په تاريخ کی د نفرت او شرم په تورو وليکل شو.

دی توری دوري بيا د امير شيرعلی تر زمانی دوام وکړ او کله چی شيرعلی خان امارت ته ورسيده يو ځل بيا افغان ولس ته د بايللی عزت د تر لاسه کيدو موقع پيدا شوه خو له بده مرغه چی بيا يی هم دوام و نه کړ او ډيره ژر د افغان ميرنی ولس په مخ د شرم بله در وازه د يوه بل ليونی او د انتقام د اخستنی د رنځور په لاسو و ټکول شوه. دا رنځور امير محمد يعقوب خان و، هغه د دی د پاره چی د خپلی هغی کورنی نه چی ده ته يی د شهزاده نوم ور کړی و، انتقام او غچ واخلی، د ننګرهار د خوګيانيو مربوط د ګمدمک په سيمه کی د انګريزی استعمار د نماينده (کيو ناری) سره يو تړون په لسو مادو کی په (١٨٧٩م) کی لاس ليک کړ او په دی توګه يی بيا د دی آزاد ملت آزادي ته زيان ورساوه او افغان ولس يی دی ته مجبور کړ حی د ورځنی ژوندانه د چارو د سرته رسولو په ځای د مورچلونو جوړولو ته مخه کړی. او نتيجه هم دا شوه چی چی (کيوناری) هم له د خپل کاکا د زوی (مکناټن) غوندی خپله ککړی و خوړه.

دا هم د هماغو ورځو نه يوه ورځ او دهماغو پيښو نه يو پيښه ده چی په را ياديدو سره يی هر افغان زړه ټکان کوی او د حرارت په ټيټه درجه کی هم په وجود خوله را ولی.

تردی وروسته لکه ځومره چی افغان ولس د خپل ملک د آزادی او د خپل عزت د ساتلو د پاره هلی ځلی کولی، په هماغه اندازه انګريزی واکدارانو او حاکمانو هم د افغان ولس نه د خپلو ماتو ککريو د بدل اخستنی په اور کی سوځيدل او د همدی هدف د پاره يی د بل داسی يوه شخص ملا ور وتړله چی د هغه په وجود کی په دی وتوانيده چی د افغانستان د جغرافيی يو لويه برخه او ګڼ شمير نفوس په ځان پوری وتړل او تر ننه لا دواړه افغان ولسونه د همدی بيلتون په اور کی سوځی. دا دافغان ولس له شرم نه جوړه ځيره امير عبدا لرحمن نوميده چی په خپلو مظلومو وطنوالو باندی د استبداد د ميچونو د تاولو په کيسو يی د افغان تاريخ په زرنګونو پاڼی توری شويدی. دی مستبد افغان زمامدار نه يواځی داچی په خپل ولس او خپلو خلکو د زری قدری اتکا نه در لوده بلکی د خپلو خلکو سره يی دومره ستره دښمنی وکړه چی نيم يی په انګريزی استعمار د پسو او وسلو په مقابل کی خرڅ کړل او پاتی نيم يی په هماغو وسلو و وژل او نابود يی کړل. دا توره او د شرم نه ډکه ورځ د (١٨٩٣) کال د نومبر دولسمه نيټه ده چی انګريز ماتيمر ډيورنډ خپله خيالی نقشه په امير عبد ا لرحمن باندی و منله، د هيواد نيمه برخه يی د ميليونونو اوسيدونکو سره په دواړو لاسو انګريزی استعمار ته تسليم کړه. د دی توری معاملی نه را جوړ شوی ناسور زخمونه لا تر اوسه زمونږ د هيواد د تباهی او بر بادی سبب کيږی او لا هم نه ده معلومه چی تر کومه به دوام کوی؟

د دی بدمرغی پيښي په دوام سره افغانستان خپله سياسی آزادی له لاسه ورکړه او د هغه زوی امير حبيب الله بر سيره د پلار د پاليسی په چلولو، د دی اولس د عزت ساتلو پروا هم ونه کړه او خپل ټول عمر يی د د خپلی ټولني د اخلاقی نورمونو نه بهرپه عيشو نوش او سات تيريو کی سر ته ورساوه، تر څو چی د خپلی تفريحګاه په سيمه کی په مر موزه توګه و وژل شو او ملت يی له شره خلاص شو.

د دی عياش امير تر وژل کيدو وروسته د هغه ځوان زوی امان الله خان د يو سلسله مقاو متونو نه ورسته د افغان ولس د حکمران په توګه، چی نسبت ټولو خپلو پخوانيو ته يی د خپل وطن او ولس د آزادی او آبادی سره د هغی خاصی زده کړی او تر بيی له کبله چی محمود بيګ طرزی ورته ورکړی وه ، مينه درلوده نو تر ټولو د مخه يی په خپلو خلکو د اعتماد د تر لاسه کولو په لاره کی زيار و ويست، کله چی يی د خپل ملت باور تر د لاسه کړ نو بی له ځنډ حخه يی د انګريز له دولت نه د خپل هيواد د آزادی اعلان وکړ او په دری جبهو کيی د خپلو خلکو نه جوړ شوی

قوتونه د انګریز سره جګړې ته و لیږل. انګریز چې و پو هیده چې د افغان ولس سره د جنګ په نتیجه کې به د هندوستان خاوره هم له لاسه ور کړی، نو دی ته مجبور شو چې د اګست په (نولسمه) په (۱۹۱۹م) کال کې د افغانستان مکمله آزادی ومنی، خو هغه سیمی یی افغانستان ته و نه سپارلی چې د ډیورنډ لاین په وسطه له افغانستان نه بیلي شوي وي. پاچا امان الله خان هم د دی جدا شوو افغانانو او د افغانستان سره د هغوی د سیمو د بیرته یوځای کیدو موضو ع ځکه طرحه نه کړله چې افغان دولت نه د سیاسی، نه د اقتصادی او نه د ټولنیز جوړښت له کبله په داسی یو موقف کې و چې د خپل دی حق غوښتلو ته یی د عمل جامه ور اغوستی وایی. ( شاید څه نور ملحوظات به هم ول چې د تاریخ استادانو ته به په مکمله توګه معلوم وی)

دا ورځ او دا پیښه د افغان ولس په تاریخ کی بله هسی درنه ورځ او د غرور نه ډکه پیښه ده چې د دوه سوه نه د زیاتو کلونو په موده کی د انګریزی استعمار لمنه په مستقیمه توګه د افغان ملت نه ټوله شوه او د خپلو ماتو ککریو او هډوکو د انقام اخستلو د پاره یی نورو شیطانی لارو ته لاس واچوه او نن هم لګیا دی دی کار ته ادامه ورکوی. **(دا ستر ویاړ ځکه د غازی امان الله خان په نصیب شو چې تر هر څه د مخه یی په خپلو خلکو او ولسونو یی اتکا کړی وه.)**

د افغانستان په تاریخ کی دا روښانه دوره چې د آزادئ تر څنګ یی د وطن د آبادئ ضمانت هم کاوه، دهماغه استعماری طاقت (انګریز) په پټو او ښکاره دسیسو او په کور دننه د سقاو د زوی حبیب الله کلکانی په مشری د غلو د ډلی ملاتړ او په دی ډله کی د غازی امن الله خان د اداری د لوړ رتبه مامورینو ور ګډول او د افغان مسلمان ملت د پاکو مذهبی احساساتو نه د انګریزی ملایانو په تبلیغ سره ناوړه ګټه پورته کونه ټول د دی سبب وګر ځیده چې د افغان ولس د بخت کاسه یو وار بیا چپه شی او غازی امیر دی ته مجبور شی چې وطن پریدی او د خلکو سرنوشت د (۱۹۲۹م) کال د جنوری د میاشتی په (اتلسم) تاریخ د غلو مشرد سقاو د زوی حبیب الله لاس ته ورشی او د کابل د ارګ واکدار شی.

د دی توری ورځې په راتلو سره په افغان ولس داسی توره تیاره را خوره شوه چې د انسانی ژوندانه ټول اړخونه یی تیاره کړل او د وحشت یوه داسی مرحله را پیل شوه چې تردی وخته یی په تاریخ کی هیڅ ساری نه درلوده. دی توری دوری تر (نهو) میاشتو پوری دوام وکړ، خو دی لنډی مودی دومره زیانونه دی هیواد ته ورسول چې اوس یی هم په یوه بله بڼه د ملی یووالی پروسی ته کواښ پیښ کړیدی.

د لمړی برخې پای

نور بیا